# جریده میـــزان

قـوه قضائیه

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

یک شنبه ۴ چنګاښ ۱۴۰۲ هـ ش | ۷ ذوالحجة الحرام ۱۴۴۴ هـ ق | ۲۵ جون ۲۰۲۳ م | مسلسله شمېره (۳۷)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې ایښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تیری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کیده.
تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## لغمان ولایت کې پر یوه قاتل د قصاص الهي حکم تطبیق شو

سه شنبه (۱۴۴۴/۱۲/۲ هـ.ق نېټه) د لغمان ولایت مقام تر څنګ عیدګاه مسجد کې پر یوه قاتل د قصاص الهي حکم تطبیق شو.

د اجمل په نوم دغه قاتل د نسیم زوی د کابل ولایت د ګلدرې ولسوالۍ فعلي اوسېدونکی و. په دوو مرحلو کې دا قتلونه تر سره شوي وه، چې لومړی قتل یې د ناریه اسلحو په توسط د شپې په یوه بجه کور ته په اوونښتلو سره د لغمان ولایت قرغیو ولسوالۍ د اوسېدونکي جمعه خان اولادونه هر یو اسحاق، حکیم الله، حقیار او لایقه وژلي، او په دوهمه مرحل کې د ټوپک په ذریعه سیدولي مشهور په شینا ولد جمعه خان وژلی.

د ننګرهار زون د ابتدائیه محکمې له لوري په اوله دعوی کې د مدعی د شاهدانو د نه موجودیت او د مدعی له لوري مدعي علیه ته د قسم په نه ورکړې قضاء بالترک فیصله صادره کړه، او په دوهمې دعوی کې فیصله قضاء بالالزام بناء په اقرار صادره کړه.

دغه موضوع د اسلامي امارت محاکمو ته له راجع کېدو وروسته د اسلامي امارت د درې ګونو محاکمو (ابتدائیه، مرافعه او تمیز) لخوا په ډېر دقیق ډول وڅېړل شوه چې د هرې محکمې لخوا پرې د قصاص حکم صادر شو.

وروسته دغه حکم د اسلامي امارت د زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله حضور ته د تائید لپاره وړاندې شو.

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله لخوا هم د دې موضوع په اړه د وروستي احتیاط په منظور فوق العاده څېړنه وشوه او له علماء کرامو سره په یوه سترہ غونډه کې پرې بحث وشو چې په پای کې یې پر قاتل د قصاص شرعي حکم تائید او د هغه د تطبیق امر یې ورکړ.

د دغه حکم د تطبیق لپاره د هیواد سترې محکمې ته هدایت وشو چې د قصاص یاد حکم باید سه شنبه د ۱۴۴۴ هـ ق کال د ذوالحجې میاشتې په ۲ مه نېټه د لغمان ولایت په مرکز کې تطبیق کړي.

په هغه غونډه کې چې په همدې مناسبت جوړه شوې وه د سترې محکمې د جزاء دیوان عمومي رئیس مفتي عتیق الله( درویش)، د اسلامي امارت ګڼ شمېر مسؤولینو او عامو هیوادوالو برخه اخیستې وه.

غونډه په هیواد کې د سرتاسري امنیت د لاټینګښت، د خلکو شرعي حقونو ته د لا رسېدا او د اسلامي شریعت د لا ښه تطبیق لپاره په دعاء او د مقتول د وارثینو لخوا د قاتل په وژنه او په دې اړوند د الله تعالی د ستر حکم قصاص په تطبیق پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې د عالي شورا ۲۷ مه غونډه ترسره شوه




چهارشنبه (۱۴۴۴/۱۱/۲۵ هـ ق)نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضاة محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا ۲۷ مه غونډه ترسره شوه.

د سترې محکمې د عالي شورا په دې ناسته کې چې د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضاة محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ جوړه شوې وه د عالي شورا غړو محترم شیخ محمدقاسم (راسخ)صاحب، محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب، محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب، محترم شیخ محمد شریف (حقاني) صاحب او محترم مفتي عبدالرشید (سعید) صاحب ګډون درلود.

د عالي شورا په دې ناسته کې د غونډې په اجنډا کې د شاملو (۴) مهمو موضوعاتو په اړه تر تفصیلي خبرو وروسته د یادو موضوعاتو اړوند فیصلې صادرې شوې.

د سترې محکمې د عالي شورا یاده ناسته د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۵۱**
**نېټه: ۲۶/ ۱۴۴۴/۱۰ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : په تاریخ ۱۴۴۴/۱۰/۲۰هـ ق چې د ۱۴۰۲ هجري لمریز کال د ثور میاشتې د شلمې (۲۰) نیټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د یادې غونډې دویمه موضوع داسې وه: ((د ځینې محاکمو استهدآآت رارسیدلي دي چې خلاصه یې داسې ده: یوه موضوع څو جهتونه لري د یوه جهت په لحاظ د یوه دیوان مربوط وي د بل جهت په اعتبار د بل دیوان مربوط وي لکه: تجارتي دعوه وي دائن د پور او د فریبکارۍ دعوه پر مدیون لري.

اوله دعوه یې د تجارتي دیوان دوهمه یې د امنیت عامه دیوان مربوط ده یا په حقوقي دعوه کې جنګ سوی وي مربوطه دیوان یې حقوقي اړخ خلاصوي جزائي اړخ یې بل دیوان ته استوي، چې په دې ترتیب سره د خلکو د یوې موضوع حل او فصل د میاشتو پر ځای کله کلونه وخت نیسي په اړه یې چې څرنګه هدایت وي د هغه سره سم به اجراآت ترسره شي.))

په اړه یې د سترې محکمې عالي شورا د تصویب نمبر(۳۸)مورخ۱۴۴۴/۱۰/۲۰هـ ق د دویمې پریکړې په اساس داسې هدایت وکړ: ((هغه موضوعات چې څو اړخونه لري په هغو کې دې محاکم د موضوع اصل او فرع سره جلا کړي دکومې محکمې یا دیوان سره چې د موضوع اصل تعلق درلود هغه محکمه یا دیوان دې د موضوع ټول فرعي جهتونه د اداري اصولنامې د (۸۹) مادې مطابق د اصلي دعوې سره یو ځای په اصولي طریقه فیصله کړي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحریر شوی هدایت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼاکې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.


پاتې برخه ص ۳


**په نبوي دوره کې قضاء**

**شپږمه برخه**

حاکم دا خبره ذکر کړې ده چې رسول الله صلي الله علیه وسلم ته دوه دعوه کوونکي راغلل، نو رسول الله صلي الله علیه وسلم عمرو رضي الله عنه ته وفرمایل:» د دوی ترمنځ پرېکړه وکړه.

عمرو وویل: ای د الله رسوله صلی الله علیه وسلم! زه څنګه د دوی ترمنځ پرېکړه وکړم، په داسې حال کې چې ته حاضر یې؟ رسول الله صلي الله علیه وسلم وویل: هو، که چیري دې صحیح پرېکړه وکړه، نو ستا لپاره لس اجرونه دي او که ته د خپل کوښښ سره خطاء شوې، نو بیا هم ستا لپاره اجر شته».{ ددې روایت په اړه ویل شوي دي چې د اسناد له مخې دا حدیث صحیح دی، خو په دغه ډول نه دی نقل شوی}. [رواه الحاکم، رقم(۷۰۰۴)].

دار القطني کې یو روایت ذکر شوی دی، چې یو قوم خپله هغه دعوه چې په خص ( د لرګیو څخه جوړ شوي خونې) کې منځته راغلې وه، رسول الله صلي الله علیه وسلم ته وړاندې کړه، نو رسول الله صلي الله علیه وسلم حذیفه رضي الله عنه د هغوی سره ولېږی، تر څو د هغوی ترمنځ پرېکړه وکړي، نو حذیفه رضي الله عنه د هغه خلکو په حق کې پرېکړه وکړه کوم چې د لرګي ترلو رسی ورته نژدې وې. کله چې حذیفه رضي الله عنه بیرته راستون شو، رسول الله صلي الله علیه وسلم یې خبر کړ، نو رسول الله صلي الله علیه وسلم وویل:» حقه او پرځای پرېکړه دې کړې ده». [رواه الدارقطني، رقم(۴۵۴۵)]

اخذلیک: تتمة النظام، ۳۱ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## جلسه اداری محکمه مرافعه ولایت بدخشان دایر گردید

جلسه اداری ریاست محکمه مرافعه ولایت بدخشان بتاریخ ۱۴۴۴/۱۱/۲۶هـ. ق تحت ریاست محترم مولوی شمس الله «عزیزی» رئیس محکمه مرافعه با اشتراک همه قضات اعم از رؤساء وقضات دیوان های مرافعه، شهری و قضات آمریت وثایق ومخزن وقضات محکمه اختصاصی و به شمول پرسونل اداری در دفتر کاری ریاست محکمه مرافعه دایر گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت آیاتی چند از کلام الله مجید توسط قاضی عبدالمصور عضو «محرر» دیوان امنیت عامه محکمه مرافعه آغاز شد سپس رئیس محکمه مرافعه راجع به اهمیت تدویر جلسات اداری غرض استماع مشکلات مراجعین وجستجوی راه های حل آن پر ارزش تلقی نموده و روی موضوعات شامل آجنداء جلسه ذیلاً بحث وتبادل نظر صورت گرفت:

١ـ به رعایت رژیم رسمی اوقات کاری تاکید صورت گرفته تذکربعمل آمد که بعضی از قضات وپرسونل اداری اوقات رسمی کاری را طبق اصول رعایت نمی نمایند باید جدا رعایت گردد در صورت تخلف برخورد اصولی صورت خواهد گرفت.

٢ـ حل وفصل قضایا در میعاد معینه آن؛ تعدادی مراجعین از تاخیر بررسی دوسیه های نسبتی شان شکایت دارند در مورد تاکید بعمل آمد تا قضایا در میعاد معینه آن حل وفصل گردید از این ناحیه شکایت مراجعین مرفوع گردد.

٣ـ سلوک واسلوب قضائی در مورد مراجعین جداً رعایت گردد.

٤ـ پرسونل محاکم در امورقضائی واداری از آمرین مافوق خود اطاعت داشته در امور محوله باهم مشوره نموده قضایا را بصورت احسن وبهتر حل وفصل نمایند.

٥ـ عدم مداخله در امور یکدیگر و عدم پذیرش مهمان شخصی در دفاتر کاری در اوقات رسمی تا باعث سکتگی در امورات خلق الله به وجود نیاید.

٦ـ به تنظیف دفاتر کاری وماحول محکمه وصرفه جوی در مصارف برق وآب تاکید بعمل آمد.

٧ـ همکاری با قطعه مفرزه محکمه در تامین امنیت محکمه؛ از اینکه پرسنل محکمه مرافعه، ریاست محکمه شهری، آمریت وثایق ومحکمه اختصاصی در یک محوطه اجرای وظیفه می نمایند لذا برای تامین امنیت وجلوگیری از دخول افراد مشکوک در محکمه وجلوگیری از ازدحام مراجعین در دفاتر کاری برای پرسونل امنیتی جدا همکاری نماین . تا اینکه پرسونل محکمه در یک فضای آرام وسالم با اطمینان قلب غرض حل مشکلات خلق الله اجرای وظیفه نمایند.

در اخیر رئیس محکمه شهری وسایر مشارکین تذکر بعمل آوردند که جلسات اداری در اخیر هر هفته دایر گردد تا غرض حل مشکلات قضائی واداری ممد واقع شود.

همچنان تذکر بعمل آمد از اینکه قضایا در دیوان های مدنی مرافعه وشهری روز افزون شده تعداد مراجعین زیاد شده از این ناحیه شکایات مراجعین بلند شده است جهت حل این مشکل به مقامات عالیه پیشنهاد گردد تا پرسونل دیوان های مدنی در تشکیل سال ۱۴۰۲اضافه شود. وجلسه با دعائیه خیر توسط رئیس محکمه شهری خاتمه یافت.

## د قضائي تعلیماتو په ریاست کې د پکتیا او بامیانو ولایتونو ۱۰۶ تنو قضاتو ته علمي او تربیتي سیمینار ورکړل شو.

دوشنبه ۱۴۴۴/۱۲/۱ هـ.ق نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د قضائي تعلیماتو ریاست له لوري د روان ۱۴۴۴ هـ.ق کال د ذوالقعدې په ۲۱ نېټه د شنبې په ورځ د قضائي تعلیماتو ریاست په تالارکې د پکتیا او بامیان ولایتونو د مرافعه محکمې، ښاري محکمې او د ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو د قضاتو، مفتیانو او محررینو لپاره علمي او تربیتي سیمینار پیل شو .

په دغه سیمینار کې د مسلکي استادانو له لوري نوموړو ته په قضائي او اداري برخه کې پراخ معلومات ورکړل شول.

یاد سیمینار چې پوره لس ورځې یې دوام وکړ، په ترڅ کې یې اداري اصولنامه، حقوقي اصولنامه، معین القضاة والمفتیین او د رهنمایي وثائق مهمې برخې درساً وویل شوې، او همداراز د اسنادو او وثیقو، عریضو اوجلب پاڼو، صورت دعوی ، دفع دعوی او فیصلو لیکلو شرائط، د اشتباه موارد اوګڼ نور اړین قضائي او اداري معلومات ورسره شریک شول.

په دې سربېره په نوموړو د قضاء په برخه کې عملي کار هم ترسره شو چې د مختلفو موضوعاتو او مثبته اسبابو په نظر کې نیولو سره یو شمېر مکملې فیصلې پرې مطالعه او ولیکل شوې.

یاد سیمینار د ذوالحجې د میاشتې په لومړۍ نېټه د یو لړ مهمو توصیو سره پای ته ورسېد.

## د کندهار ولایت د مرافعه محکمې د رئیس په مشرۍ د دېوانونو د رئیسانو تر منځ غونډه ترسره شوه

سه شنبه ۱۴۴۴/۱۱/۲۴ هـ.ق نېټه د کندهار ولایت مرافعه محکمې د دېوانونو رئیسانو غونډه په داسي حال کې، چې د یادو دېوانونو رئیسانو، د تحریراتو رئیس او د وثایقو آمر ګډون درلود، د مرافعه محکمې رئیس محترم شیخ الحدیث مولوی عبدالغفار(بحر)صاحب په مشرۍ دایره شوه.

یاده غونډه د مدني دېوان د رئیس مولوي عبدالجلیل (سفیان ) صاحب لخوا د قرآن کریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه.

وروسته د مرافعه محکمې رئیس محترم شیخ الحدیث مولوي عبدالغفار (بحر) صاحب په خپله وینا کې وویل:

څرنګه چې لیدل کیږي یو تعداد د مرافعه محکمې رئیس صاحبانو له محبس څخه لیدنه کړې وه او په خپلو راپورونو کې یې یو تعداد د بندیانو د بې سرنوشتۍ معلومات راکړي، بهتره به وي چې په میاشت کې یو یا دوه ځلې ټول د دېوانونو رئیسان هغه که ابتدائیه او یا مرافعه دي له محبس څخه لیدنه وکړي ترڅو هیڅ یو بندي د بې سرنوشتۍ په حالت کې پاته نه وي.

همدارنګه په یاده غونډه کې په یوه حقوقي موضوع باندې هم بحث وشو او هیئت ورته وټاکل شو ترڅو ساحې ته ولاړ شي له نږدې په موضوع کې تحقیق او څېړنه وکړي.

او په یاده غونډه کې هدایت وشو، چې محاکم دې په خپلو فیصلو کې د فیصلې لیکلو تعلیماتنامې (۶۴)مادې هدایت مطابق عمل وکړي.

یاده غونډه د دعا په ویلو سره پای ته ورسېده.

## طی دو هفته در محاکم استیناف ولایت سمنگان علاوه بر حل و فصل (۱۰۵ ) جلد دوسیه، ۱۲۰ قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء شده است

گزارش اجراآت دو هفته ئی ریاست عمومی محاکم استیناف ولایت سمنگان شامل دواوین استینافی، محکمه ابتدائیه شهری، آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن و محاکم ابتدائیه ولسوالیهای آن ولایت در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق از تاریخ ۱۴۴۴/۱۱/۷ هـ.ق الی ۱۴۴۴/۱۱/۱۹ هـ. ق به شرح ذیل مواصلت نموده است:

**در بخش حقوقی:**

درجریان دو هفته به تعداد (۵۸) دوسیه وارد محاکم آن ولایت گردیده در حالیکه چندین دوسیه نیز از قبل تحت دوران قرار داشته که از آن جمله (۱۱) دوسیه فیصله، (۴) دوسیه مسترد مکتوبی، در مورد (۲۶) دوسیه به قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و متباقی دوسیه ها تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

درجریان دو هفته به تعداد (۴۷) دوسیه وارد محاکم آن ولایت گردیده در حالیکه چندین دوسیه نیز از قبل تحت دوران قرار داشته که از آن جمله (۱۶) دوسیه فیصله، (۱۹) دوسیه مسترد مکتوبی، در مورد (۱۳) دوسیه به قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و متباقی دوسیه ها تحت کار می باشد. همچنان به تعداد (۱۲۰) قطعه وثایق مختلف النوع نیز طی دو هفته اجراء گردیده است.

## رئیس جدید التقرر محکمه مرافعه ولایت جوزجان به همکارانش معرفی گردید

مؤرخ ۱۴۴۴/۱۱/۲۲ هـ. ق محفل معرفی محترم مولوی عبدالغنی «سعید» رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت جوزجان با حضور داشت محترم قاری گل حیدر «شفق» والی آن ولایت، مفتی عبدالوهاب «زاهد» رئیس اسبق محکمه مرافعه ولایت جوزجان، رئیس محکمه مرافعه ولایت سرپل، قوماندان امنیه، رئیس استخبارات، رئیس شورای علماء، مسؤلین ادارات ذیربط، قضات محاکم ولایات جوزجان و فاریاب، مفتی صاحبان و محررین در صالون مقام آن ولایت برگزار گردید.

ابتداء محفل با تلاوت آیاتی چند از کلام الله مجید توسط یکتن از اعضای جلسه آغاز گردید سپس والی آن ولایت ضمن معرفی رئیس جدید التقرر محکمه مرافعه از تلاش های خوب مسلکی قضائی محترم مفتی عبدالوهاب «زاهد» رئیس اسبق محکمه مرافعه اظهار قدردانی نموده و برای محترم مولوی عبدالغنی «سعید» رئیس جدید التقرر محکمه مرافعه آرزوی مؤفقیت و کامیابی در راستای امورات کاری شان نموده و از تمام ادارات عدلی و قضائی تقاضاء نمود که در جهت حل مشکلات هماهنگی و همکاری لازم را نمایند.

بعداً محترم مفتی عبدالوهاب «زاهد» رئیس اسبق محکمه مرافعه افزود که هر نوع فرامین که از مقامات ذیصلاح صادر می گردد اطاعت نموده و به آن عمل می نمایم و همچنین از تمام قضات، محررین، مفتی صاحبان معافی خواسته، اگر در جریان مدیریتم کدام اشتباه صورت گرفته باشد به بزرگواری شان عفو نمایند، هکذا تمام کارمندان اداری و قضائی محکمه مرافعه تقاضاء نمودند که با محترم مولوی عبدالغنی «سعید» همکاری لازم نموده و از آن اطاعت نمایند.

متعاقباَ رئیس محکمه مرافعه ولایت سرپل بالنوبه ایراد سخن نموده گفت که تبدیل و تغیر در نظام امارت اسلامی افغانستان یک اصل بوده و برای تمام اراکین ولایت جوزجان تقرر محترم سعید صاحب را تبریک و تهنیت عرض نموده و از خدمات شایسته محترم مفتی عبدالوهاب «زاهد» در این ولایت قدردانی می نمایم.

هکذا رئیس شورای علماء تشریف آوری رئیس جدید التقرر را در آن ولایت خیر مقدم گفته و منحیث شورای علماء خواستند که ملت ما به کمک زیاد نیاز داشته باید کمک نمائیم تا ملت رنجدیده مان از سرگردانی رهائی پیدا کنند .

همین طور فورم پ۲ محترم مولوی عبدالغنی «سعید» رئیس جدید التقرر محکمه مرافعه توسط محترم عبدالقیوم «نظری» آمر منابع بشری مقام ولایت قرائت گردید.

بعداً در ادامه سخنرانی محترم مولوی عبدالغنی «سعید» رئیس جدید التقرر محکمه مرافعه به مقام ولایت و تمام بخش های عدلی و قضائی اطمینان داد که از هیچگونه تلاش در جهت بهبود امور و حل مشکلات این ولایت دریغ نخواهند کرد.

همچنان رئیس محکمه مرافعه تأکید بر هماهنگی و همکاری میان نهادهای عدلی و قضائی و سایر ارگانهای دولتی در آن ولایت نمود و از قضات محکمه جوزجان خواست که با من همکار بوده تا دست بدست شده عدالت را بوجه احسن انجام دهیم.

در اخیر محفل معرفی با دعائیه محترم مولوی خوشحال رئیس استخبارات خاتمه یافت.

## رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت فاریاب با رئیس امر بالمعروف و نهی عن المنکر آن ولایت دیدار و ملاقات نمود

یوم دوشنبه مورخ ۲۳/ذوالقعدة الحرام / ١٤٤٤ هـ. ق محترم مفتی عبدالوهاب «زاهد» رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت فاریاب با محترم مولوی صادق «ثاقب» رئیس امر بالمعروف و نهی عن المنکر و اعضاء ریاست امر بالمعروف و نهی عن المنکر آن ولایت در دفتر کاری اش پیرامون موضوعات مرتبط دیدار و ملاقات نمود.

در نخست ملاقات با تلاوت آیاتی چند از کلام الله مجید آغاز شد، سپس رئیس امر بالمعروف و نهی عن المنکر ضمن تبریکی و خوش آمدید رئیس جدید التقرر محکمه مرافعه افزود:

الحمد الله نظام اسلامی در افغانستان در اثر نصرت و کمک الله متعال و قربانی های ملت مجاهد افغانستان حاکم گردیده است و امنیت سرتاسری تامین بوده و بخاطر تأمین و برقراری عدالت و تطبیق شریعت غرای محمدی صلی الله علیه وسلم وفرامین امارت اسلامی افغانستان همکاری و هماهنگی لازم میان ادارات امارتی خصوصاً ریاست امر بالمعروف و نهی عن المنکر با محاکم بسیار مفید و ارزنده بوده بخاطر که ریاست امر بالمعروف و نهی عن المنکر همیشه بخاطر از بین بردن فساد، منکرات و اعمال که مخالف احکام دین مقدس اسلام بوده باشد سعی و تلاش می نماید و در جامعه جایگاه مهمی دارد و از آن طریق در مورد رساندن راه شریعت و تشریح امورات خیر برای مردم نقش بسزای دارد.

بعداً رئیس محکمه مرافعه تشریف آوری رئیس و اعضاء ریاست امر بالمعروف و نهی عن المنکر فاریاب را به محکمه مرافعه خیر مقدم عرض نموده طی صحبتی گفت که بخاطر رسیده گی بهتر در تطبیق احکام شریعت اسلامی و قوانین نافذه امارت اسلامی افغانستان با ادارات، بالاخص با محاکم همکاری بیشتر داشته و بخاطر روشن ساختن اذهان عامه تلاش نمایند و ملاقات با دعائیه خیر و فلاح ملت خاتمه یافت.

## رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت بغلان از محکمه ابتدائیه شهری پلخمری بازدید کرد

بتاریخ ۱۴۴۴/۱۰/۲۶ هـ. ق رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت بغلان با معیتی سید نورآغا «مدنی» آمر عمومی تحریرات ریاست محکمه مرافعه از ریاست محکمه شهری پلخمری دیدن نمود.

در این بازدید ضمن بازدید از شعبات محکمه شهری پلخمری و احوال پرسی با قضات وکارمندان، کتاب صادره وارده، اندارج دوسیه های حقوقی، جزائی وفیصله های قضات را ملاحظه نموده و در راستای هرچه بهتر شدن اجراآت قضائی واداری به مسئولین آن اداره رهنمود های مفید وارزنده را توصیه نموده و طی یک جلسه با قضات وکارمندان آن محکمه هدایات ذیل را ارایه نمود:

ـ با مراجعین وطرفین دعوی از سلوک و رفتار نیک کار گرفته و در حصه حل مشکلات شان از دقت لازم شرعی واصولی استفاده کنید.

ـ اگر آنعده از مقروضین غرض پرداخت شان از قاضی محکمه مهلت میخواهند قاضی موظف برای شان مهلت معینه را بدهد.

ـ هرگاه مدیون درصورت داشتن قدرت مالی از پرداختن دین امتناع میکند واز امرمحکمه تمرد میورزد توقیف گردد.

ـ اگر مدیون با وصف توقیف وبندی شدن از ادای دین باز هم اباء میورزد مطابق مواد (۹۹۸ـ۹۹۹) مجله الاحکام عدلیه فیصله خویش را به اموال وجایداد مدیون صادر نماید.

## رئیس محکمه استیناف ولایت پروان ازمحکمه ابتدائیه ولسوالی سیدخیل آن ولایت بازدید نمود

بتاریخ ١٤٤٤/١١/٢٣ هـ.ق مطابق١٤٠٢/٣/٢٢ هـ. ش محترم مولوی روح الله»عبدالسلام» رئیس محکمه استیناف ولایت پروان با معیتی محترم مفتی عزیزالله»حیدری» رئیس دیوان مدنی استیناف از دفاتر کاری محکمه ابتدائیه ولسوالی سیدخیل آن ولایت بازدید به عمل آورد.

در ابتداء جلسه مختصر در دفتر محکمه ابتدائیه با قضات آن ولسوالی تدویر گردید سپس دفاتر حاضری، کتاب ثبت اندراج حقوقی و جزائی، کتاب وارده و صادره، کتاب صورت حال، کتاب ثبت عرایض، وغیره اجراآت قضائی واداری محکمه متذکره را بررسی نموده، مشکلاتی که در روند کاری دوسیه های شان دیده شد برای مسئولین مربوطه آن رهنمائی لازم صورت گرفت. علاوه بر آن رئیس محکمه استیناف روی موارد ذیل نیز تاکید نمود:

١ ـ ارائه راپور های دوهفته ئی، ربع وار، سالانه و راپور های حاضری ۲۵ روزه با در نظرداشت جدول ها ورهنمائی های مقام عالی ستره محکمه ا.ا.ا البته بدون تاخیر انجام یابد.

٢ ـ رسیده گی به قضایا باید تسریع یابد که تا از تراکم دوسیه ها جلو گیری گردد.

٣ـ پابندی به حاضری و رویه نیک با مراجعین در اولویت قرار داده شود.

٤ ـ در رابطه به ترتیب وتنظیم دوسیه جات توجه جدی صورت گیرد تا خود ومراجع مربوطه آن به مشکل اداری وقضائی مواجه نگردند.

٥ـ عرایض مراجعین توسط رئیس محکمه استیناف استماع شد و در زمینه به آنها رهنمائی های که لازم بود هدایت داده شد.

٦ـ در اجراآت خویش رعایت از اصولنامه، لوایح ومتحدالمآل های ارسالی مقام محترم عالی ستره محکمه ا.ا.ا. را در نظر بگیرید.

٧ـ خدمات خوبتر وبهتر برای مردم رنج دیده ولسوالی سیدخیل بدون تاخیر صورت گیرد.

در خاتمه مشکلات و پیشنهادات محکمه مذکور توسط هئیت موظف یاداشت گردید تا جهت بهبود اجراآت مرفوع گردد.

بازدید وجلسه با دعائیه خیر توسط رئیس محکمه استیناف خاتمه یافت.

## د ارزګان ولایت د غونډو په تالار کې د عدلي او قضائي ارګانونو د همغږۍ غونډه تر سره شوه

د ۲۲/ ذوالقعده/ ۱۴۴۴ هـ ق نېټه د ارزګان ولایت د مرافعه محکمې د عمومي رئیس الحاج شیخ مولوي سخیداد (ابوالتقي) په مشرۍ د ارزګان ولایت د غونډو په تالار کې د عدلي او قضائي ارګانونو د همغږۍ جلسه ترسره شوه.

په یاده غونډه کې د ارزګان ولایت مرستیال والي مولوي باري ګل آخند، د ښاري ابتدائیه محکمې سرپرست رئیس مولوي کلیم الله صاحب، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رئیس مولوي کریم الله (فقیر)، د زراعت رئیس مولوي عبدالصمد(مقبول)، د څارنوالۍ رئیس ملا عصمت الله (حاجی عمر)، د محبس مسؤل عبدالحنان(همت)، د قوماندانۍ سرپرست قومندان ملا عتیق الله (ناظم)، آمرجنائي ملاګل آغا(عادل)، د ولایت مقام رئیس دفتر ملا جمیل الله (هارون)، د عدلیې ریاست مسؤل مفتي محمدنبي، د اقوامو او قبایلو آمر مولوي عبدالرشید او د مرافعه محکمې مدیر اجرائیه محب الله (نظري) ګډون درلود.

غونډه د قرانکریم په څو مبارکو ایاتونو پیل شوه، چې ورپسې د مرافعه محکمې عمومي رئیس د یادي همغږۍ جلسې پر اهمیت خبرې وکړې او ویې ویل، دا جلسه ډېره ګټوره ده، ځکه چې د زیاتو ادارو رئیسانو پکښې ګډون کړی، او کوم مشکل چې په هر ریاست کې وي، هغه مشکل په همغږۍ حل کیږي.

د خبرو په دوام کې شیخ صاحب د قضاء اړوند خبرې هم وکړې او ویې ویل، چې په هر ملک کې محکمه او قضاء شتون ولري، نو د یو ملک جوړېدل په محکمه پوري اړوند ده، که چیري شریعت وي او په محکمه کې عدل وي او د شریعت په رڼا کې د خلکو کارونه خلاصیږي، نو هغه ملک به هیڅ وخت پر شا رانه سي او د پرمختګ په حال کې به وي.

په یاده غونډه کې نورو رئیسانو هم په خپل نوبت سره خبرې وکړې او ټولو رئیسانو خپل مشکلات او ستونزې د شیخ صاحب سره شریکي کړې او زیاته خوشحالي یې څرګنده کړه، چې ټول مشکلات او ستونزې یې په همغږۍ سره حل کیږي او خوښي یې وښودل، چې د عدلي او قضائي ارګانونو د همغږۍ جلسه ډېره مفیده ده، که په هر ریاست کې ستونزې او مشکلات وي، نو هغه ته د اصولو مطابق د حل لاره پیداکیږي.

یاده جلسه د زراعت رئیس مولوي عبدالصمد(مقبول) په دعا سره پای ته ورسیده.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه...

**د متحدالمآل ګڼه: ۵۲**

**نېټه: ۱۴۴۴/۱۰/۳۰ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : په تاریخ ۱۴۴۴/۱۰/۲۰ هـ ق چې د ۱۴۰۲ هجري لمریز کال د ثور میاشتې د شلمې (۲۰) نیټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د یادې غونډې دریمه موضوع داسې وه: ((د ځینو محاکمو استهداآت رارسیدلي دي چې خلاصه یې داسې ده: د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۴۹) مورخ ۱۴۴۴/۹/۲۷ هـ ق مطابق، د دوه موضوعاتو:

الف: ۱ — هغه ډلې چې د اسلامي امارت په ضد مسلحانه فعالیت کوي.

۲ — د اختطاف ټول موضوعات که منجر په قتل سره وي یا منجر په قتل سره نه وي، اختطاف کوونکی نظامي شخص وي یا غیر نظامي شخص وي. د حل او فصل صلاحیت یې نظامي محاکمو ته ورکړل شوی دی اوس پوښتنه دا ده: چې د ولسوالیو محاکم د یادو موضوعاتو د حل او فصل صلاحیت لري او که د ولسوالیو یاد موضوعات هم نظامي محاکمو ته واستول شي؟

ب : هغه موضوعات چې مخکې د یوه دیوان مربوط وه اوس بل دیوان یا نظامي محاکمو ته د مشرتابه محترم عالي مقام د هدایت مطابق ورکول سوي دي او په مختلفو مراحلو کې دي.

۱ — په ځینو موضوعاتو کې مخکني دیوان ته صورت دعوه راوړل شوې وي.

۲ — صورت دعوه او دفع دواړه راوړل شوي وي.

۳ — فیصله ترتیب شوي وي یوازې ابلاغ یې پاته وي.

۴ — د استیناف یا تمیز لخوا نقض شوې وي.

۵ —مخکني مراحل د صورت دعوې دفع دعوې ابلاغ چې ذکر سوه یاد موضوعات په استیناف یا تمیز کې په دغه مراحلو کې قرار لري.

بناءً یاد موضوعات چې په ذکر شوي مراحلو کې قرار ولري نو مخکنی دیوان(چې موضوع ورڅخه نقل سوې ده) یې د حل او فصل صلاحیت لري او که وروستني دیوان (چې موضوع ورته نقل شوي ده) ته واستول شي؟))

په اړه یې د سترې محکمې عالي شورا د تصویب نمبر(۳۸) مورخ۱۴۴۴/۱۰/۲۰هـ ق د دریمې پریکړې په اساس داسې هدایت وکړ:

((الف: هغه ډلې چې د اسلامي امارت په ضد مسلحانه فعالیت کوي او د اختطاف ټول موضوعات که منجر په قتل سره وي یا منجر په قتل سره نه وي، اختطاف کوونکی نظامي شخص وي یا غیر نظامي شخص وي، د حل او فصل صلاحیت یې نظامي محاکمو ته ورکړل شوی دی نو په دې اساس د یادو جرمونو مرتکبین که په ولسوالۍ کې وي او که په ولایت کې وي موضوع یې د نظامي محاکمو مربوط ده د ولسوالۍ محاکم یې د حل او فصل کولو صلاحیت نه لري.

ب: هغه موضوعات چې مخکې د یوه دیوان مربوط وه اوس بل دیوان یا نظامي محاکمو ته ورکول سوي دي او په مختلفو مراحلو کې دي د مثال په توګه: (په ځینو کې صورت دعوه راوړل شوې وي، صورت دعوه او دفع دواړه راوړل شوي وي، فیصله ترتیب شوي وي یوازې ابلاغ یې پاته وي، د استیناف یا تمیز لخوا نقض شوې وي یا هم ذکر شوي مراحل د صورت دعوې دفع دعوې ابلاغ چې ذکر سوه د استیناف یا تمیز په مرحله کې قرار ولري) په دې ټولو صورتونو کې دي موضوع وروستني دیوان(چې د موضوع د حل او فصل صلاحیت ورته ورکول سوی دی) ته واستول سي، هغه دي واخلي او حق د اولیت دي ورکړي تر څو د یادو موضوعاتو د ځنډ یوه اندازه مخنیوی وسي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحریر شوی هدایت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

پاتې برخه ص ۴

سرپرست مسئوول مدير: مولوي عبدالرحيم (راشد)
اديتور : جوادالله (جاهد)
ډيزاين: حميدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په مياشت کې درې ځله چاپيږي

## د سترې محکمې متحدالمآلونه...

### د متحدالمآل ګڼه: ۵۳
**نېټه: ۹ /۱۱/ ۱۴۴۴ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : په تاريخ ۱۴۴۴/۱۰/۲۷هـ ق چې د ۱۴۰۲ هجري لمريز کال د ثور مياشتې د اووه ويشتمي (۲۷) نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د يادي غونډې ځلورمه موضوع داسي وه: ((د ماليې وزارت د مکتوب نمبر (RVPO–۵۳) په توسط غوښتنه کړې وه تر څو محاکمو ته هدايت وشي چې د هغو ماليه ورکونکو چې د حکم اطاعت نه کوي او ماليه په خپل وخت نه تحويلوي د هغو د تأديب لپاره دې د مالياتو د چارو د ادارې د قانون د (۲۳ او ۲۴) مادې کمافی السابق عملي شي، په اړه يې د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست نظر ورکړی دی چې د يادو مادو عملي کول د شريعت له نظره کوم مشکل نلري.))

په اړه يې د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر(۳۹) مورخ۱۴۴۴/۱۰/۲۷هـ ق د ځلورمې پريکړې په اساس داسي هدايت وکړ:

((محاکم کولای شي چې د مالياتي ادارو د غوښتنې په اساس د هغه ماليه ورکونکو په باره کې چې ماليه په خپل وخت نه تحويلوي، د ممنوع الخروجي او يا هم د مدعی عليه د ملکيت د بندولو قرار صادر کړي.

که چيري ماليات د مدعی عليه د ملکيت د عوائدو څخه اجراء کېدلای سي په دغه صورت کې دي د عوائدو څخه د ماليات‌و د اجراء قرار صادر کړي او که د عوائدو څخه ماليات نه پوره کېدل يا يې عوائد نه لرل د مدعی عليه د ملکيت د خرڅولو ضرورت وو په دغه صورت کې به محکمه د مدعی عليه د ملکيت د خرڅولو هدايت د سترې محکمې د محترم مقام څخه غواړي تر هغه وروسته به د هدايت موافق عمل تر سره کوي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۵۴
**نېټه: ۱۲ /۱۱/ ۱۴۴۴ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : په تاريخ ۱۴۴۴/۱۰/۲۷هـ ق چې د ۱۴۰۲ هجري لمريز کال د ثور مياشتې د اووه ويشتمي (۲۷) نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د يادي غونډې اوومه موضوع داسي وه: ((د سترې محکمې عالي شورا په مجلس مورخ ١٤٤٤/٨/١ هـ ق کې د تصويب نمبر (۳۱) د دريمې پريکړې په اساس د ديوانونو په (الف او با) څانګو د ويشلو د ترتيب په باره کې هدايت شوی وو چې ياد هدايت په تاريخ ۱۴۴۴/۸/۴هـ ق د سترې محکمې د منابع بشري عمومي رياست ته استول شوی او د هغه مطابق په ځينو محاکمو کې ديوانونه په (الف او با) ويشل شوي اوس پوښتنه داده: چې يوه موضوع د يوه ديوان په يوه جزء کې وي او د موضوع يو جانب د همدې ديوان بل جزء ته تبديل غواړي آيا دغه تبديل کېدلای شي او که نه؟))

په اړه يې د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر(۳۹)مورخ۱۴۴۴/۱۰/۲۷هـ ق د اوومې پريکړې په اساس داسي هدايت وکړ:

((که يوه موضوع د يوه ديوان په يوه جزء کې وي او د موضوع يو جانب د همدې ديوان بل جزء ته تبديل غواړي دغه تبديل دې نه ورکول کيږي که ضرورت د تبديل وو د اصولو مطابق دې بل ديوان ته تبديل وغواړي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۵۵
**نېټه: ۱۵ /۱۱/ ۱۴۴۴ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : د کابل ولايت د څلورم زون ابتدائيه محکمې پيشنهاد نمبر (۲۲۱۲) مورخ ۱۴۴۴/۱۱/۳هـ ق رارسيدلی چې خلاصه يې داسي ده: (د ځيني محکمو او ديوانونو رئيسان صاحبان او مفتيان صاحبان غواړي چې د ۱۴۴۴هـ ق کال د حج فريضې د اداء کولو په موخه سعودي عربستان ته سفر وکړي، پوښتنه دا ده: چې د يادو رئيسانو صاحبانو تر راستنېدلو پوري بل شخص د سرپرست په توګه تعين شي او يا هم د محاکمو اجراآت د تصميم نيولو په اړه د رئيسانو صاحبانو تر راستنېدلو پوري بند شي؟) د پورته ذکر شوي پيشنهاد خلاصه مو د سترې محکمې محترم مقام ته وړاندې کړه، د سترې محکمې محترم مقام يې په اړه د حکم مورخ ۱۴۴۴/۱۱/۹هـ ق په اساس داسي هدايت وکړ:

((وعليکم السلام ورحمت الله وبرکاته!

ياده موضوع کې دي د مشکل د حل لپاره خپل پرځای سرپرست مقرر کړي ترڅو د محاکمو کارونه ونه ځنډيږي.

دارالانشاء دې متحدالمآل ټولو محاکمو ته واستوي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم مقام پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۵۶
**نېټه: ۱۸ /۱۱/ ۱۴۴۴ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاريخ ۱۱ – ۱۴۴۴/۱۱/۱۲هـ ق چې د ۱۴۰۲ هجري لمريز کال د جوزا مياشتې د (۱۰ ـ ۱۱) نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د يادي غونډې اتمه موضوع داسي وه: ((د سعيد الله ولد حيات محمد او مدعي عليه قضاياى امارت د (۲۳) جريبه او (۱۲) بسوې او ۷ بسواسه ځمکې د غصب دعوی چې د تيري ادارې د غصب املاک اختصاصي محکمې لخوا د نومورې د موکلينو په نفع فيصله شوې او د تطبيق غوښتنه کړې وه چې د مرکزي تميز عالي رياست د مکتوب نمبر (۵۵۴ پر ۲۱۱۲) مورخ ۱۴۴۴/۵/۱۳ هـ ق په توسط د تيرې ادارې اختصاصي محکمې ته راجع شوې ده، اوس پوښتنه داده چې: د غصب املاک امارتي په موضوعاتو کې چې د تيري ادارې اختصاصي محکمې فيصلې صادرې کړې وي اوس د بيا څېړلو لپاره اختصاصي محکمې ته واستول شي يا د ځمکو د غصب د مخنيوي او د غصب شويو ځمکو د استرداد کميسيون ته؟

يادونه: ياد موضوعات د مشرتابه محترم مقام د حکم مورخ ذوالحجة الحرام ۱۴۴۳ هـ ق په توسط د تيري اداري اختصاصي محاکمو مربوط بلل سوي او د حکم مورخ ١٤٤٤/٣/٧ هـ ق په توسط د غصب د محنيوي د کميسيون مربوط بلل سوي دی.))

په اړه يې د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر(۴۰)مورخ ۱۱ ـ۱۴۴۴/۱۱/۱۲هـ ق د اتمې پريکړې په اساس د يادي موضوع په اړه په لاندې ډول هدايت وکړ:

((د امارتي املاکو هغه موضوعات چې په اختصاصيه محاکمو کې اصولي جريان ورکړل شوی هغه دې په اختصاصيه محاکمو کې فيصله شي او هغه موضوعات چې په اختصاصيه محاکمو کې اصولي جريان نه دی ورکړل شوی هغه دې د ځمکو د غصب د مخنيوي او د غصب شويو ځمکو د استرداد کميسيون ته واستول شي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم مقام پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

## جلسه اداری محکمه ابتدائیه زون چهارم شهر کابل دایر گردید

بتاريخ ۱۴۴۴/۱۱/۱۴ هـ. ق جلسه اداری تحت رياست محترم مفتی عبدالرحمن «عزيزی» رئيس عمومی محکمه ابتدائيه زون چهارم شهر کابل با اشتراک رؤساء دواوين آن محکمه در مقر رياست عمومی زون داير گرديد.

ابتداء جلسه با تلاوت آياتی چند از کلام الله آغاز گرديده و بعد از صحبت های مقدماتی رئيس عمومی زون هدايات آتی داده شد:

١ ـ رؤسای محترم دواوين مکلف اند هدايت مقام را در نظر گرفته در رسيدگی به قضايا نوبت را مراعت نمايند.

٢ ـ قضايايکه دارای چندين بُعد ميباشد جهت رسيدگی به آنها متحدالمآل شماره ۵۱ رياست محترم دارالانشاء مقام عالی ستره محکمه بايد در نظر گرفته شود.

٣ـ در قضايای جزائی که ايجاب تحقيقات بيشتر را مينمايد بعد از جلسه ابتدائی، جلسات بعدی آن بايد پی هم گرفته شود تا ميعاد معينه رسيدگی به دوسيه ها جزائی در محاکم ابتدائيه مراعت شده باشد.

٤ـ رؤسای دواوين مکلف اند هر پانزده روز بعد از اجراآت کارمندان تحت اثر شان نظارت نمايند.

٥ـ راپور های اجراآت دواوين شان را در هر ماه دو مرتبه (در ۱۵ و ۳۰هر ماه ) به مديريت عمومی تحريرات رياست عمومی ارسال تا به اجراآت بعدی در وقت معين ترتيب شود.

در پايان جلسه، رؤسای دواوين اظهار همکاری همه جانبه نمودند و اطاعت از اوامر و هدايات فوق را لازمی پنداشتند و جلسه با دعائيه خير به پايان رسيد.

میزان

د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

publication@supremecourt.gov.af

www.supremecourt.gov.af

د ټليفون شميرې:
۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳